مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۱/۲۴

غزل

نه دې خندا، نه دې مستي، نه خوشالي منمه
زه دې ژړا، لوږه او تشه خاموشي منمه

پرهر بدن مي په خندا شو چې اوس سوله راغله
زه به زخمي بدن د ځان اوس زنده ګي منمه؟

تړلی لاس یم، زولنو کښې راته وايي خپلواک
زه خو غلام نه یم چې داسې نوکري منمه

زما کلتور، حق د تعلیم په زوره اخلي رانه
اوس راته وايي چې ووایه نوکري منمه

زما ویاړونه، روڼ تاریخ راسره کله مني
پسرلی نه مني او وايي چې ازغي منمه

مصطفی پسرلی
21/Jan/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ